عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۸/۲۲

# شخصي حريم څه دی؟

انسان که څه هم يو ټولنيز موجود دی او د ژوند ډېره برخه فردي کړه‌وړه او انتخابونه افکار، ارزښتونه او اړتياوې يې له بل انسان يا ټولني سره د اړيکو له مفهوم څخه تعريف مومي، خو له دې ټولو سره سره هر انسان غواړي ترڅان د محرميت او شخصي و شخصيتي حريم داسي سره کرښه راتاوکړي وساتي چې هيڅوک يې ورړنګه نه‌کړي. کور، کورنی، څېره، جامي، فکر، د زړه خواله، شخصي معلومات او نورځانګړي انتخابونه يې يوه برخه دي.
د افغانانو ستر حکيم خوشال خان خټک په دستارنامه کې فرمايي:

بل چې د محل د کورونو د ازواج د وابسته‌و وي غيرت. بل چې د ازدواج د محل د مستوراتو وي، دا غيرت دي هسې وي، چې مچ د چا به وجود کيني هم دې پر غيرت شي. غيور دې ترهسې حده وي او په دا کې دوه قسمه غيرت دی: يو غيرت د عاقلانو بل د جاهلانو. د جاهلانو دا چې بدګوماني کا، جاسوسي کا، په تش ګومان يا په تش اروېدو خبره زياتوي يا ځوک وژني يا ځوک وهي. دا غيرت نه‌دی دا جهل و حماقت دی. تر محمد رسول الله بل څوک غيور نه‌و په اِفک د بي بي عايشي چې مشرکانو مخ تور کړی و، څو حِلم و تحمل سرور وکړ تر هغه پورې چې باطل وبله روښن شول، آيت نازل شو. د عاقلانو غيرت دا دی، چې هرګز په خپلو مستوراتو بدګوماني نه‌بويه، جاسوس جاسوسي نه بويه، غوږداري وسواس نه‌بويه، دا کارونه څه هسې نه دي چې پټ پاتي کيږي.

**که په سل پردې يې نغاړې**
**پياز بشکاره کا خپلي غاړې**

هرچه خدای تعالی په ازل پاکي پيدا کړې دي، ناپاکي به نه‌شي.

نړيوالو قوانينو او د بشري حقونو نړيوالي اعلاميې د هروګړي شخصي ژوند، کورنی او کورني اړيکي، استوګنځای او شخصي فضا، ليکني او ليکني روابط، شخصيتي اعتبار د يوه انسان ځانګړي حريمونه ګڼلي چې د هرچا له هرراز لاس‌وهني خوندي دي.

د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق وايي:

«هيڅ شخص بايد په خپل شخصي ژوند، کورنی، کور يا اړيکو کې له خپل‌سرې يا ناقانوني مداخلي سره مخ نه‌شي. دا سند دولتونه مکلفوي چې د افرادو شخصي حريم د ناقانانونه تېري څخه وساتي.»

دلته د شخصي حريم د خونديتوب ترڅنګ دا هم اړينه بلل شوې، چې په دې اړه دې روښانه او څرګند وضعي قوانين وي، چې د شخصي حريم بريدونه تعريف کړي.

د شخصي حريم درناوی هم په اخلاقو کې شامل بحث دی او هم په قوانينو کې. دا په حقيقت کې د يوې سالمي ټولني د رامنځته کولو لپاره بنستي مسئله ده، چې د انسان د رواني امنيت يوه مهمه برخه جوړوي.
قوانين د وګړيو خصوصي حريم د رعايت بريدونه ټاکي، ځکه انسان داسي يوه حريم ته اړ دی. که د دې حريم بريدونه مشخص نه وي، په دې اړه ابهام ستونزې پيښوي. هره شبهه ويره اوضطراب چې د فرد څه خوندي دي او څه ناخوندي. په افغاني دود دستور او پښتني کوډونو کې شخصي حريم د درناوي وړ دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ